مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۵/۱۱/۲۵

# د موکا واده

شمس الدین کاده چې په موکا مشهور دی، د الجزایر په حنشله ولایت کې اوسېده. ړوند پیدا شوی و او بیا نو غربت او بې وسي هم تر وروستۍ درجې ځپلی و. چې د واده خبرې يې پیل شوې، له مور سره نیږدې خیاط ته د جامو ګنډلو لپاره ورغی، د هغه د پوښتنې ځواب کې يې په غمزده لهجې وویل، چې: زه هم هیله لرم واده مې رنګین وي، مور او مېرمن مې کلي کونې ته خوشحاله او راضي شي، خو دا په کله امکان ولري.

خیاط همدغه خبره د موکا له تصویر سره د حنشله ولایت په یوې مشهورې ویبپاڼې کې نشر کړ، بیا نو دا خبر دومره وایرل شوی چې د موکا په واده کې نه یوازې الجزایریانو، بلکې د تیونیس، فلسطین، مصر او نورو ګاونډیو هیوادونو زرګونو خلکو هم ګډون وکړ. د هغه کور يې له ډالیو، ضروري سامان، زیوراتو او شتمنۍ څخه ډک کړ.

دا د الجزایر تر ټولو تاریخي او بنکلی واده و، چې له ۲۰۰۰ ډېر موټرونه، پکې سپاره ماشومان او کورنۍ، له ۱۰۰ زیات موټرسایکل سپاره، ۵۰ په اسونو سپاره، له ۱۰ زیاتې د موسیقۍ ډلې، چې قبایلي، صحرایي او د ماډرن طرز هنرمندان پکې شامل و، بې شمېره نڅاګر او ۷۰ اور پاشونکي او رڼا پاشونکي پکې شامل و.

موکا د ناوې تر کوره په اوږو یوړل شو او تقریباً ۱۰ زره خلکو د هغه په واده کې ګډون وکړ.
دواړو (موکا او ناوې) ته د هنې مون (ماه عسل) څو پیکجونه ورکړل شول، هغوی حیران و چې چېرته لاړ شي، تیونس که ترکیه؟

په ورا کې شاملو خلکو بېنرونه نیول وو، چې پرې لیکل شوي وو: هو موږ الجزایري یو! هو موږ ورونه یو!

مختلفو تلویزیوني چینلونو د موکا، د هغه د مور، پلار او نورو خپلوانو مرکې ثبت کړې، چې ټولو پکې ویل: باور مو نه کېده چې حنشله وال به زموږ د زوی واده دومره یادګاري کړي.

په فیسبوک او ټویټر کې د موکا د واده ورځې د کلي کونې کتلو لپاره یوازې د (موکا) لفظ هم بس دی.

ژباړه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ